afghanistan justice archive

DEC5.03.26.2023

Ministry of Education
Mohammad Jan Khan Watt, Kabul, Afghanistan
Email: Info@moe.gov.af/ (+93) 20 210 3979

وزارت معارف
محمد جانخان وات کابل- افغانستان
Email: Info@moe.gov.af – (+93) 020 210 3979

د افغانستان اسلامي امارت
د پوهني وزارت

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Education

امارت اسلامی افغانستان
وزارت معارف

د کیفیت د تضمین معینیت
د تقنین او پالیسي ریاست
اجرائیه مدیریت

ګڼه: ۱۰۸۸
نېټه: ۴ / ۹ /۱۴۴۴ هـ ق

عاجل ☐ عادي ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐

د ښوونې او روزنې محترم معینیت ته!

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته.

موضوع: د پوهنې په ښوونیزو مؤسسوکې د جامو( یونیفورم) د لایحې په هکله نظر غوښتنه.

د پوهنې په ښوونیزو مؤسسوکې د جامو (یونیفورم) د لایحې تعدیلي طرحه چې د ښوونې او روزنې معینیت له لورې دې ریاست ته را لیږل شوې ده د نوموړې لایحې یوه کاپي د تقنین او پالیسي ریاست له لورې تر تدقیق وروسته ستاسو د نظر ترلاسه کولو په موخه در استول کېږي، هیله ده ترڅو خپلو اړوندو ریاستونو ته یې هم تکثیر کړئ او د موضوع د استعجالیت له مخې د نوموړې طرحې په هکله خپل او د خپلو اړوندو ریاستونو نظریات د یوې اونۍ په ترڅ کې دې ریاست ته را ولېږئ ترڅو د نورو پړاوونو تېرولو په هکله یې اقدام وشي. له همکارۍ مو مخکې له مخکې مننه کوو.

والسلام

الحاج مولوي عبدالخالق صادق
د کیفیت د تضمین معین

کاپي:
i. د اسلامي تعلیماتو محترم معینیت ته
ii. د منابع او اداري محترم معینیت ته
iii. د دفتر محترم ریاست ته
iv. د پلان محترم ریاست ته
v. د خصوصي ښوونیزو مؤسسو محترم ریاست ته
vi. د دعوت او ارشاد محترم ریاست ته

Ministry of Education
Saray ghazni, Kabul, Afghanistan
Email: Info@moe.gov.af/ (+۹۳) ۷۹۷۲۰۲۰۹۲

وزارت معارف
جمال مینه، سرای غزنی، د ساینس د مرکز ودانۍ کابل- افغانستان
Email: Info@moe.gov.af – (+۹۳) ۷۹۷٤۰۱۰٦٤

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Education

امارت اسلامی افغانستان
وزارت معارف

د افغانستان اسلامي امارت
د پوهنې وزارت

ریاست عمومی دفتر
ریاست اسناد، تعقیب هدایات و احکام
آمریت اسناد و ارتباط
مدیریت عمومی اسناد و ارتباط

نظارت

شماره: ۴۶۴۸

تاریخ: ۱۴۴۴/۹/۸ هـ ق

☐ عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر

**د کابل ښار پوهنې محترم ریاست ته!**

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته.

د تضمین کیفیت محترم معینیت د ۱۴۴۴/۹/۴ نېټې، (۱۰۸۸) گڼه لیک، د پوهنې په ښوونیزو مؤسسوکې د جامو (یونیفورم) د لایحې په هکله د نظر غوښتنې، په اړه راستول شوی.

پدې توگه پورته گڼه مکتوب د یونیفورم له لایحې سره، د خبرتیا او نورو اصولي کړنو په موخه تاسو محترم ریاست ته دروالستول شو.

**په درنښت**

**مولوي عزیز احمد ریان**

**د وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس**

۱۴۴۴/۹/۱۱

د عمومي زده کړو آمریت ته!

د موضوع په هکله د مکتوب له متن سره سم اصولي اجراآت ترسره او د
حل لپاره کړنو نتیجه عاجل د وزارت مقام ته اطلاع ورکړئ.

مولوي احسان الرحمن
د کابل ښار پوهنې رئیس

کاپي:

د بودجې اړیکو او تمویل کوونکي محترم ریاست ته.

د نشراتو او عامه پوهاوي محترم ریاست ته.

د داخلي پلټنې محترم ریاست ته.

Ministry of Education
Mohammad Jan Khan Watt, Kabul, Afghanistan

وزارت معارف

afghanistan
justice
archive





د افغانستان اسلامي امارت
د پوهنې وزارت
معینیت تضمین کیفیت
د تقنین او پالیسۍ ریاست

# د پوهنې په ښوونیزو مؤسسو کې د جامو (یونیفورم) لایحه

# لایحۀ لباس (یونیفورم) در مؤسسات تعلیمی معارف

(۱۵)

د خپریدو نیټه: د۱۴۴۴ هـ. ق. کال د ( ) میاشتې ( )          تاریخ نشر: ( ) ماه ( ) سال ۱۴۴۴ هـ. ق.

afghanistan justice archive

DEC5.03.26.2023

د افغانستان اسلامي امارت
د تقنین او پالیسي ریاست
د پوهنې وزارت

# لړلیک


| ماده | عنوان | |
|---|---|---|
| | لومړی فصل | |
| | عمومي حکمونه | |
| لومړۍ ماده | مبنی | ۱ |
| دوهمه ماده | موخې | ۱ |
| دریمه ماده | اصطلاحګانې | ۱ |
| څلورمه ماده | د پلي کېدو ساحه | ۲ |
| | دوهم فصل | |
| | د زدکوونکو د جامو بڼه او رنګ | |
| پنځمه ماده | د نارینه زدکوونکو جامې | ۲ |
| شپږمه ماده | د ښځینه زده‌کوونکو جامې | ۳ |
| اوومه ماده | د خارندوی جامې | ۴ |
| | دریم فصل | |
| | د ښوونکو جامې | |
| اتمه ماده | د نارینه ښوونکو جامې | ۴ |
| نهمه ماده | د ښځینه ښوونکو جامې | ۴ |
| | څلورم فصل | |
| | متفرقه حکمونه | |
| لسمه ماده | اضافي جامې اغوستل | ۵ |
| یوولسمه ماده | ممنوع جامې | ۵ |
| دوولسمه ماده | پلي کول او څارنه | ۵ |
| | پنځم فصل | |
| | وروستي حکمونه | |
| دیارلسمه ماده | انفاذ | ٦ |

afghanistan justice archive

DEC5.03.26.2023

بسم الله الرحمن الرحیم

## د پوهنې په ښوونیزو مؤسسوکې د جامو(یونیفورم)لایحه

### لومړی فصل

### عمومي حکمونه

<u>مبنی</u>

**لومړۍ ماده**

دغه لایحه د پوهنې د قانون د یوڅلویښتمې مادې د حکم پر بنسټ وضع شوې ده.

<u>موخې</u>

**دوهمه ماده**

دغه لایحه د لاندې موخو لرونکې ده:

(۱) د پوهنې په ښوونیزو مؤسسو کې د نظم او انظباط رامنځته کول.

(۲) په زدکوونکو کې د زده‌کړې او قانون منلو روحیه پیاوړې کول.

(۳) د متفاوت اقتصاد لرونکو کورنیو د زده‌کوونکو ترمنځ د ګډ احساس رامنځته کول.

(۴) له نورو اشخاصو سره د زده‌کوونکو توپیر را منځته کول.

<u>اصطلاحګانې</u>

**دریمه ماده**

راتلونکې اصطلاحګانې په دې لایحه کې لاندې مفاهیم افاده کوي:

(۱) زده‌کوونکی: هغه شخص دی، چې د پوهنې وزارت په ښوونیزو مؤسسو کې په حضوري ډول په زده‌کړه او روزنه تر لاسه کولو بوخت وي.

(۲) ښوونیزه مؤسسه: د عمومي ښوونو، اسلامي ښوونو او د ښوونکي د روزنې له دولتي او خصوصي ښوونیزو

## لایحهٔ لباس (یونیفورم) در مؤسسات تعلیمی معارف

### فصل اول

### احکام عمومی

<u>مبنی</u>

**مادهٔ اول**

این لایحه بر اساس حکم مادهٔ چهل و یکم قانون معارف وضع گردیده است.

<u>اهداف</u>

**مادهٔ دوم**

این لایحه دارای اهداف ذیل می‌باشد:

(۱) ایجاد نظم و انظباط در مؤسسات تعلیمی معارف.

(۲) تقویهٔ روحیهٔ آموزش و قانون پذیری در شاگردان.

(۳) ایجاد احساس مشترک در بین شاگردان خانواده‌های دارای وضعیت اقتصادی متفاوت.

(۴) ایجاد تمایز شاگردان با سایر اشخاص.

<u>اصطلاحات</u>

**مادهٔ سوم**

اصطلاحات آتی در این لایحه معانی ذیل را افاده می‌نماید:

(۱) شاگرد: شخصی است که در مؤسسات تعلیمی وزارت معارف به شکل حضوری مشغول فراگیری تعلیم و تربیه می‌باشد.

(۲) مؤسسهٔ تعلیمی: عبارت از مؤسسات تعلیمی دولتی و خصوصی تعلیمات عمومی، تعلیمات اسلامی و تربیهٔ

afghanistan justice archive

DEC5.03.26.2023

مؤسسو څخه عبارت دي، چې د پوهنې وزارت تر مدیریت او څارنې لاندې فعالیت کوي.

(۳) شرعي جامې: د جامو شرعي ځانګړتیاوې په لاندې توګه دي:

۱. جامې له لازمې اندازې څخه لنډې نه وي.

۲. جامې تنګې او چسپې نه وي.

۳. جامې نرۍ او شفافې نه وي.

۴. جامې د مخالف جنس له جامو سره ورته والی و نه لري.

(۵) د څارندوی نښان: هغه نښان دی، چې له نورو زده‌کوونکو څخه د څارندوی زده‌کوونکو د تفکیک په منظور کارول کېږي. د نښان په منځ کې محراب، منبر، د غنمو وږي، د افغانستان د اسلامي امارت بیرغ ځای پرځای او د افغانستان د څارندوی ټولنه پکې لیکلي شوي دي.

<u>د پلي کېدو ساحه</u>

څلورمه ماده

د دې لایحې حکمونه د دولتي او خصوصي ښوونیزو مؤسسو د زده‌کوونکو او ښوونکو په هکله په یو شان پلي کېږي.

دوهم فصل

د زدکوونکو د جامو بڼه او رنګ

<u>د نارینه زدکوونکو جامې</u>

پنځمه ماده

(۱) د نارینه زده‌کوونکو جامې کمیس او پرتوګ دي چې د زده‌کوونکي د قد او جسامت سره متناسبې تر زنګنونو ښکته پورې لمنو سره له ټاکل شوې تکې څخه چمتو کېږي.

(۲) د نارینه زده‌کوونکو جامې له لومړي ټولګي څخه تر

معلم می‌باشد، که تحت مدیریت و نظارت وزارت معارف فعالیت می‌نمایند.

(۳)لباس شرعی: مشخصات شرعی لباس قرار ذیل می باشد:

۱. لباس از حد لازم کوتاه نباشد.

۲. لباس تنگ و چسپ نباشد.

۳. لباس نازک و شفاف نباشد.

۴. لباس با لباس جنس مخالف مشابهت نداشته باشد.

(۵) نشان څارندوی: نشانی است، که به منظور تفکیک شاگردان څارندوی از سایر شاگردان مورد استفاده قرار می‌گیرد. در داخل نشان څارندوی محراب، منبر، خوشهٔ گندم، بیرق امارت اسلامی افغانستان جابجا شده و د افغانستان د څارندوی ټولنه در آن تحریر گردیده است.

<u>ساحه تطبیق</u>

ماده چهارم

احکام این لایحه در مورد شاگردان و معلمین مؤسسات تعلیمی دولتی و خصوصی به طور یک سان تطبیق می-گردد.

فصل دوم

شکل و رنگ لباس شاگردان

<u>لباس شاگردان ذکور</u>

مادهٔ پنجم

(۱)لباس شاگردان ذکور پیراهن و تنبان است که متناسب با قد و جسامت شاگرد با دامن‌های الی پایین زانوها از تکه انتخاب شده تهیه می-گردد.

(۲)لباس شاگردان ذکور از صنف اول الی ششم به

afghanistan justice archive

DEC5.03.26.2023

شپږم ټولګي پورې په آسماني رنګ دي.

(۳) د نارینه زده‌کوونکو جامې له اووم ټولګي څخه تر دوولسم ټولګي پورې په پسته‌يي رنګ دي.

(۴) د ديني مدرسو د نارينه زده‌کوونکو جامې له لومړي ټولګي‌څخه ترشپږم ټولګي پورې په فولادي رنګ او سپينه خولۍ او له اووم ټولګي څخه تر دوولسم ټولګي او له هغه پورته په سپين رنګ جامې او سپينه پګړۍ دي.

(۵) د ښوونکي د روزنې د مؤسسو (دارالمعلمينونو) د نارينه زده‌کوونکو جامې په سرمه‌يي رنګ دي.

(۶) خصوصي ښوونيزه مؤسسه کولای شي خپله لوګو د اړوندو زده‌کوونکو په کميس کې ځای پرځای کړي.

د ښځينه زدکوونکو جامې

شپږمه ماده

(۱) د ښځينه زدکوونکو جامې له کميس، پرتوګ او پړونې څخه عبارت دي، چې د شرعي ځانګړتياوو په درلودلو سره، په افغاني ګردلمنه بڼه د زده‌کوونکو له قد او جسامت سره متناسبې جوړېږي.

(۲) د ښځينه زده‌کوونکو د کميس لمنه تر زنګنونو ښکته پورې رسېږي.

(۳) د ښځينه زدکوونکو جامې له لومړي څخه تر شپږم ټولګي پورې په غير روښانه کريمي رنګ او پړونی په سپين رنګ دي.

(۴) له اووم څخه تر دوولسم ټولګي پورې د ښځينه زده‌کوونکو جامې په ماشي رنګ او پړونی په تور رنګ دي.

(۵) د ښځينه زده‌کوونکو کميس او پرتوګ له يو رنګي ټکي څخه جوړېږي.

(۶) د اووم او له هغه څخه پورته ټولګيو ښځينه زده‌کوونکي د ښوونيزې مؤسسې د تګ او راتګ پر لاره په فولادي رنګ چپنه/حجاب هم اغوندي او ترجيحاً له

رنگ آسمانی می‌باشد.

(۳)لباس شاگردان ذکور از صنف هفتم الی صنف دوازدهم به رنگ پسته‌یی می‌باشد.

(۴)لباس شاگردان ذکور مدارس دینی از صنف اول الی ششم به رنگ فولادی و کلاه سفید و از صنف هفتم الی صنف دوازدهم و بالاتر از آن لباس به رنگ سفید و دستار سفید می‌باشد.

(۵)لباس شاگردان ذکور مؤسسات تربیه معلم (دارالمعلمین‌ها) به رنگ سرمه‌یی می‌باشد.

(۶)مؤسسه تعلیمی خصوصی می‌تواند لوگوی خود را در پیراهن شاگردان مربوط نصب نماید.

لباس شاگردان اناث

مادهٔ ششم

(۱)لباس شاگردان اناث عبارت از پیراهن، تنبان و چادر است، که با داشتن مشخصات شرعی، به شکل دامن گرد افغانی متناسب با قد و جسامت شاگرد ساخته می‌شود.

(۲)دامن پیراهن شاگردان اناث الی پایین زانوها می‌رسد.

(۳)لباس شاگردان اناث از صنف اول الی ششم به رنگ کریمی غیر رشن و چادر به رنگ سفید می‌باشد.

(۴)لباس شاگردان اناث از صنف هفتم الی دوازدهم به رنگ ماشی و چادر به رنگ سیاه می‌باشد.

پیراهن و تنبان شاگردان اناث از تکه رنگ واحد ساخته می‌شود.

(۵) شاگردان اناث صنوف هفتم و بالاتر از آن در مسیر رفت و برگشت مؤسسه تعلیمی چپن/حجاب به رنگ فولادی را نیز می‌پوشند و ترجیحاً از ماسک

afghanistan justice archive



ماسک څخه ګټه اخلي.

### د څارندوی جامې

اوومه ماده

(۱) د نارینه څارندوی جامې په نخودي رنګ کمیس او پرتوګ، په تور رنګ بوټونه دي.

(۲) د ښځینه څارندوی جامې د ښځینه زده‌کوونکو د جامو مطابق دي.

(۳) د څارندوی نښان د څارندوی د کمیس د ښي لاس په مټ باندې ګنډل شوی وي.

(۴) په څارندوی کې شامل زده‌کوونکي په خپل مټ د پوهنې د بیرغ په رنګ تکه‌یي پټه د څارندوی د لیکنې په درلودلو سره او سپین رنګ کمربند هم تړي.

(۵) د څارندوی ترافیک د څارندوی له جامو څخه برسېره د ترافیکو خولۍ او د دریدو نښه هم کاروي.

## دریم فصل

## د ښوونکو جامې

### د نارینه ښوونکو جامې

اتمه ماده

(۱) د عمومي ښوونو د مؤسسو ښوونکو او د ښوونکي د روزنې د مؤسسو د استادانو جامې افغاني ملي جامې (کمیس او پرتوګ) دي.

(۲) د اسلامي ښوونو د مؤسسو د مدرسینو جامې افغاني ملي جامې دي چې له دیني علماوو سره مناسبې وي.

### د ښځینه ښوونکو جامې

نهمه ماده

(۱) د عمومي ښوونو، اسلامي ښوونو او د ښوونکي د روزنې د مؤسسو د ښځینه ښوونکو جامې له شرعي موازینو سره سم کمیس، پرتوګ او پړونی دي.

(۲) ښځینه ښوونکې د ښوونیزې مؤسسې د تګ او راتګ

استفاده می‌نمایند.

### لباس څارندوی

مادهٔ هفتم

(۱) لباس څارندوی ذکور متشکل از پیراهن و تنبان به رنگ نخودی و بوت‌ها به رنگ سیاه می‌باشد.

(۲) لباس څارندوی اناث مطابق لباس شاگردان اناث می‌باشد.

(۳) نشان څارندوی در بازوی دست راست پیراهن څارندوی دوخته شده می‌باشد.

(۴) شاگردان شامل څارندوی در بازوی خود بازوبند تکه‌یی به رنگ بیرق معارف با داشتن نوشته څارندوی و کمربند به رنگ سفید نیز بسته می‌نمایند.

(۵) ترافیک څارندوی برعلاوه از لباس څارندوی کُلاه ترافیک و علامهٔ توقف را نیز استفاده می‌نمایند.

## فصل سوم

## لباس معلمان

### لباس معلمان ذکور

مادهٔ هشتم

(۱) لباس معلمان ذکور مؤسسات تعلیمات عمومی و استادان مؤسسات تربیه معلم لباس ملی افغانی (پیراهن و تنبان) می‌باشد.

(۲) لباس مدرسان مؤسسات تعلیمات اسلامی لباس ملی افغانی که مناسب علمای دینی است می‌باشد.

### لباس معلمان اناث

مادهٔ نهم

(۱) لباس معلمان اناث مؤسسات تعلیمات عمومی، تعلیمات اسلامی و تربیه معلم پیراهن، تنبان و چادر مطابق موازین شرعی می‌باشد.

(۲) معلمان اناث در مسیر رفت و برگشت مؤسسه

afghanistan justice archive



## څلورم فصل

## متفرقه حکمونه

<u>اضافي جامې آغوستل</u>

لسمه ماده

(۱) کله چې زده‌کوونکي/ ښوونکي د یخنۍ احساس کوي کولای شي اضافي جامې (جاکټ/جمپر، د غاړې دسمال او توده خولۍ...) واغوندي.

(۲) د ټاکل شوو جامو په رنګ نرۍ واسکټ اغوستل د زده‌کوونکو لپاره اختیاري دي.

(۳) د عمومي ښوونو د ښوونځیو د زده‌کوونکو لپاره سپینه خولۍ پر سر کول اختیاري دي.

<u>ممنوع جامې</u>

یوولسمه ماده

(۱) د اضافي جامو اغوستل د نهمې مادې په (۱) فقره کې د راغلې اړتیا څخه پرته د زده‌کوونکو لپاره ممنوع دي.

(۲) د ښځینه ښوونکو او زدکوونکو لپاره لنډکمیس او پتلون اغوستل ممنوع دي.

(۳) د ښوونکو او زدکوونکو لپاره نکټایي تړل ممنوع دي.

<u>پلي کول او څارنه</u>

دوولسمه ماده

(۱) د ښوونیزې مؤسسې آمر/ مدیر د دې لایحې د حکمونو له پلي کېدو څخه په اړونده ښوونیزه مؤسسه کې څارنه کوي.

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

<u>پوشیدن لباس های اضافی</u>

مادهٔ دهم

(۱) هرگاه شاگردان/ معلمان احساس سردی می‌کنند می‌توانند لباس اضافی (جاکت/جمپر، دستمال گردن وکُلاه گرم ...) بپوشند.

(۲) پوشیدن واسکت نازک به رنگ لباس های تعیین شده برای شاگردان اختیاری می‌باشد.

(۳) پوشیدن کُلاه سفید برای شاگردان مکاتب تعلیمات عمومي اختیاري می‌باشد.

<u>لباس‌های ممنوع</u>

ماده یازدهم

(۱) پوشیدن لباس‌های اضافی بدون ضرورت مندرج فقره (۱) ماده نهم برای شاگردان ممنوع می‌باشد.

(۲) پوشیدن پیراهن کوتاه و پتلون برای معلمان و شاگردان اناث ممنوع می‌باشد.

(۴) بستن نکتایی برای معلمان و شاگردان ممنوع می-باشد.

<u>تطبیق و نظارت</u>

مادهٔ دوازدهم

(۱) آمر/ مدیر مؤسسهٔ تعلیمی از تطبیق احکام این لایحه در مؤسسات تعلیمی مربوط نظارت می-نماید.

(۲) زدکوونکي د خپلو جامو د پاکوالي په ساتلو مکلف دي.

(۳) که چیرې زدکوونکي، ټاکلې جامې له موجه عذر پرته نه وي اغوستې، زدکوونکي ته توصیه کېږي او د تکرار په صورت کې، موضوع د زده‌کوونکي له ولي سره شریکېږي.

پنځم فصل

وروستي حکمونه

انفاذ

دیارلسمه ماده

- د پوهنې په ښوونیزو مؤسسو کې د جامو (یونیفورم) لایحه چې د تقنین او پالیسۍ ریاست له خوا د اړوندو برنامو سره په همغږۍ چمتو او تدقیق شوې ده، منظوروم.

- د دې لایحې په نافذېدو سره په دې هکله پخوانۍ مغایر حکمونه لغو ګڼل کېږي.

(۲) شاگردان مکلف به حفظ نظافت لباس‌های [illegible] می‌باشند.

(۳) هرگاه شاگرد لباس‌های تعیین شده را بدون عذر موجه نپوشیده باشد، به شاگرد توصیه [illegible] صورت تکرار، موضوع با ولی شاگرد شریک ساخته می‌شود.

فصل پنجم

احکام نهایی

انفاذ

مادهٔ سیزدهم

- لایحهٔ لباس (یونیفورم) در مؤسسات تعلیمی معارف که از جانب ریاست تقنین و پالیسی در هماهنگی با برنامه های مربوط تهیه و تدقیق گردیده است، منظور می‌دارم.

- با انفاذ این لایحه احکام مغایر سابقه در این مورد ملغی پنداشته می‌شود.

مولوی حبیب الله آغا

د پوهنې سرپرست وزیر